# ماته یو داسې عمل را وښیه چې که زه یې وکړم جنت ته به داخل شم، هغه ورته وفرمایل: «چې د الله تعالی عبادت وکړې او له هغه سره څوک شریک نه کړې، فرض لمونځ ادا کړې، فرض زکات ورکړې او د رمضان (میاشت) روژه ونیسې

له ابو هریره - رضي الله عنه - څخه روایت دی چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یو اعرابی (اطرافی سړی) راغی او ورته یې وویل: ماته یو داسې عمل را وښیه چې که زه یې وکړم جنت ته به داخل شم، هغه ورته وفرمایل: «چې د الله تعالی عبادت وکړې او له هغه سره څوک شریک نه کړې، فرض لمونځ ادا کړې، فرض زکات ورکړې او د رمضان (میاشت) روژه ونیسې»، هغه وویل: قسم په هغه ذات چې زما روح یې په لاس کې دی، له دې څخه به یې زیات نه کړم، نو کله چې ولاړ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «که څوک غواړي چې له جنتیانو څخه یو سړي ته وګوري، نو دې ته دې وګوري».

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

له باندې څخه یو سړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی تر څو داسې یو عمل وروښیي چې جنت ته یې داخل کړي، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم په ځواب کې ورته وویل چې جنت ته داخلېدل او له جهنم څخه ژغورل کېدل د اسلام د ارکانو په عملي کولو پورې اړه لري، یوازې د یو الله تعالی له عبادت څخه او دا چې شرک ورسره ونه کړي. او دا چې په هره شپه او ورځ کې پنځه وخته لمونځ وکړې چې الله تعالی درباندې فرض کړي دي. او د مال زکات ورکړې چې الله تعالی درباندې فرض کړی دی او اړمنو خلکو ته یې ورکړې. او دا چې په خپل وخت کې د رمضان میاشتې روژې ونیسې. سړي وویل: قسم په هغه ذات چې زما روح یې په لاس کې دی، هغه اطاعتونه مې چې له تا څخه واورېدل نه پرې څه ورزیات کړم او نه به ترې څه کم کړم. کله چې ولاړ، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: که څوک غواړي چې د جنتي انسان په لېدلو خوشحاله شي نو دغه باندې چې ته دې وګوري.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3689